# لمرځرک اونیزې،د افغان رسنیو په کورنۍ کې په ځلا پیل وکړ

لمرځرک اونیزه د علمي ، کلتوري او سیاسي ارزوونو خپلواک ډګر .

لمرځرک اونیزه ستاسي د ژوند او چاپیریال رڼه هینداره.

لمرځرک اونیزي افغان اولس ته د سوکالۍ او نیکمرغۍ په هیله د میني او رښتنولۍ په قدم له کابل نه ، د رسنیو په کور کښي ګام ایښی دی.

لمرځرک اونیزه د الحاج محمدجان باوري د امتیاز څښتن او حاجي امین باوري په مسول مدیریت ، هره اونۍ له چاپه راوزي.

لمرځرک ته خپلي علمي ، سیاسي او کلتوري لیکني د چاپ لپاره راولیږۍ ، او اونیزه په وړیا توګه پر خپل ادرس وغواړۍ.

خپلي علمي، سیاسي، کلتوري لیکني او بنستیز وړاندیزونه د خپلو پتو سره پر دې پته راولیږۍ:

lmartsrak@hotmail.com

lmartsrak@yahoo.com

bawarypress@hotmail.com

bawarypress@yahoo.com

hotakbawary@hotmail.com

# لمرځرک

نېټه : ۱۹ - قوس - ۱۳۸۸ لمړي کال لمړۍ ګڼه


## مینه او ریښتینولي د ژوند نوم دی

(نظري)

## لمرځرک د علمي، کلتوري او سیاسي ارزونو خپلواک ډګر

## د باوري صنعتي مطبعي له لوري د افغانستان د کلتوري میراثونو او ګرځندوی انستیټوت د پرانستلو په ویاړ د مبارکۍ پیغام






د باوري مطبعي ټوله اړوندان د افغانستان د کلتوري میراثونو او ګرځندوی انستیټوت د پرانستلو له امله د انستیټوت مشر ، مرستیالانو، د انستیټوت علمي شورا او اړوندانو ته د زړه له کومې مبارکي وايي.

زموږ باور دا دی چې : پوهنه د هیوادونو او اولسونو د پرمختګ او لوړتیا پر لور بنسټیز لامیل دی. د هیوادونو او اولسونو د پرمختګ کچه د هغه هیواد او په هغه هیواد کې د میشتو اولسونود پوهې او زدکړې له مخې ټاکل کیږي. په هر پیمانه چې د پوهنې کچه لوړه وي ، په هغه تناسب یې د هیواد پرمختګ څرګند وي.

د باوري مطبعې مشرتابه او ټولو اړوندان، ستاسو دا علمي هڅه د هیواد د پرمختګ پر لور یو اغیزمن ګام ګڼي او په دې علمي یون کې ستاسو د بشپړ بري هیله کوي. د دې تر څنګ به د خپل توان تر بریده خپل ماتیزي او مادیزي مرستې ونه سپموي. د لوی او سپیڅلي خدای و حضور ته د دعاد لپه نیسو او وایو چې یارب العزته! زموږ پر هیواد د پوهې رڼا او د امن فضا واکمنه کړه چې ځوانان مو دزدکړو په مټ د نړۍ سره د سالمې سیالۍ جوګه سي. مشران مو درنښت و مومي او هیواد مو سر لوړی او خپلواک وساتل سي. امین یارب العالمین

د باوري مطبعي مسوول مدیر

حاجي امین باوري

## یو الماس څو کیسې

صفیه حلیم



### د پېرنګي کیسه

د میلادي کال ۱۸۴۹د جون په میاشت کې د لوېديځ پنجاب سیک جنګیالو ډلو د انګریز پوځ ته ماته

براخي دده د دولسو کالوځوی او دده خای ناستی مهاراجه دلیپ سنګه د خپل مور راني جند کور او یو څو خدمت ګارانو سره یاته دی. د رنجیت سنګه خزانه د انګریزانو لاس ته ورغلې وه او په دې کې تر ټولو قیمتي الماس کوه نورد پنجاب نوی ټاکل شوی والي جان لارنس سره و. لارنس په دې وخت کې د سیمې په انتظام بوخت و نو الماس یې په تیکه کې تاو راتاو کړ، په یو وړوکي ډبي کې بند او د خپل واسکټ په جیب کې یې کېښودو. دده واسکټ د نورو جامو سره دده خدمت ګار سمبال کړو. یوه نیمه میاشت چې ووتله نو د ډهلي نه د بریطانیې د حکومت ګورنر جنرال لارډ ډلهوزي ورته پیغام ور واستو چې کوه نور الماس په ملکې ( وکټوریه ) ته وړاندې کړی شي. ډلهوزي غوښتل چې د ولس کلن دلیپ سینګ دې پخپل لاس دا ملکې ته ور ډالۍ کړي هدف یې دا و چې د پنجاب تر لاسه کول هغه وخت د دوی تر ټولو لوی بریالیتوب و او د دې سیمې تر ټولو خواکمن مهاراجه خوئ ملکې ته د کوه نور په وړاندې کولو د بریطانیې د سلطنت برم به په اوج ورسوي. جان لارنس په دې پیغام سخت وار خطا شو. د خپل دفتر نه خاني کوټې ته ولاړو او خدمت ګار نه یې په واسکټ کې د وړوکي ډبي پوښتنه وکړه. نوکر ولاړو او د ټین د یو زاړه صندوق نه یې هغه ډبی را وویستلو. لارنس ورته وویل ډبې پرانیزه او وګوره چې پکې څه دي. خدمت ګار وویل "صیب دا د شیشې یوه ټوټه پکې ده"

د لاهور نه بمبئ ته د دې الماس د خوندي سفر لپاره پلان جوړ شو. او بیا د بمبئ نه د جان لارنس په نګرانۍ کې کوه نور د تل لپاره د هند نه یوړل شو. ډلهوزي د کوه نور نه علاوه د رنجیت سینګ د سرو زرو تخت هم انګلستان ته یوړو او د ۱۸۵۰ میلادي کال د جولائ د میاشتې په دریمه نېټه کوه نور د بریطانیې ملکې وکټوریه ته وړاندې کړې شو. په ۱۸۵۱ کې د لندن په هایډ پارک کې دا الماس په لومړئ ځل عامو خلکو په نندارتون کې لپاره ولیدو. د شیشې جوړه هم د دې الماس یوه بدله کاپي د لاهور په میوزیم کې کېښودل شوه. په ۱۸۵۲ کې دا قیمتي ډبره د تراشلو پر وخت دا د خپل حجم نه په سلو کې ۴۲ وړوکی شوه او روسته دا د بریطانیې د نوري خزانې سره یو ځای د لندن په کلا ( ټاور ) کې وساتل شوه.

د کوه نور د تاریخ سره ترلې خوندي پېښو پولې وهمو نو ته لاره جوړه کړه دا چې هر څوک دا الماس له ځانه سره وساتلو نو هغه به له بد مرغئ سره مخ کیږي. خو انګریزانو وویل چې دا الماس ښځې ته ضرر نه رسوئ او کله چې د وکټوریه امپور ملکې الیګزانډره لپاره نوئ تاج جوړېدو نو کوه نور په دې کې ولګول شو. اوس دغه تاج د بریطانیې ملکه الیزبته په سروي. اوس یو سل او شپېته کاله کیږي چې کوه نور د انګریزانو سره دی

### د سیکانو کیسه

په ۱۸۱۳ م کې دلاهور په لاړو کوڅو کې چراغان دی. د پنجاب لوئ مهاراجه رنجیت سینګ د کوه نور په ویاړ یو جشن جوړ کړی دی. دی په خپل شاهي تخت ناست او کوه نور الماس یې په مټ ( بازو بند ) ترلی. نجومیانو ورته خبرداری ورکړی دی چې که دا الماس ئې په ښکې کې ونو مېلونو بد مرغي به ورته راولي. د

## د افغانستان د کلتوري میراثونو او ګرځندوی انستیټوت په اړه د پوهنوال محمد رسول باوري سره ځانګړې مرکه



پوښتنه: ښاغلی استاد باوري ، که مهرباني وکړی دا انستیټوت په لنډه توګه زموږ درنو لوستونکو ته ور وپېژنی؟

ځواب: د افغانستان د کلتوري میراثونو او ګرځندوی انستیټوت ، په افغانستان کې د خپل ډول لومړنی علمي- مسلکي موسسه ده چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په خصوصي سکتور کې راجستر شوي او په رسمي ډول یې د خپلو علمي چارو د پیل او پاییښت جواز تر لاسه کړیدی دا انستیتوت د افغانستان د فرهنګي میراثونو او توریستي چارو په سکتورونو کې د هیواد د ځوانانو د ښوونې او روزنې چارې پر مخ بیایې. د انستیټوت لپاره غوره شوی درس پروګرام ( کروکولم ) د اجتماعي علومو پوهنځی، کابل پوهنتون او لوړو زدکړو وزارت له لوري تائید او منل شویدي. دې علمي موسسې خپلې چارې په لاندې ډول تنظیم کړیدي

پوښتنه: ښاغلی باوري ! زموږ لوستونکي به غواړي په دې پوه سي چې ، د دې انستیټوت اداري او علمي جوړښت به څنګه وي ؟ که مهرباني وکړي په دې اړه لنډ مالومات راکړی

ځواب: د انستیټوت اداري او علمي جوړښت په اړه باید و وایم چې دا انستیټوت د ري علمي - مسلکي برخې لري چې د لرغوني افغانستان او کلتوري میراثونه ، ګرځندوی او په افغانستان کې د ګرځندوي چارو شونتیاوې او د ژبې او ادبیاتو په نوم یادیږي . په دې درو برخو کې شپږ دیپارتمنټونه خپلې علمي چارې په لاندې ډول پر مخ بیایي


پاته په څلورم مخ کې

